مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰٤/۱۲

# غزل

## د الفت لاسونه

هر څـه پاتې د دنیا، پاتې دنیا ته
هسې سوځم د پردیو روڼ سبا ته

کرکې زړه کې ځای د مینې دی نیولی
د الفت لاسونـه ونیسمـه چا ته ؟

تورو وریځو د لمر مخه ده نیولې
د ماتم وریځه مې نه پرېږدي رڼا ته

وخت بدل شو خو زه کله نه بدلېږم
ما پخپله ځـان سپارلی دی بـلا ته

پسرلیه! ژوند کول تګ په اغزو دی
سترې سترګې دې نیولې دي بیدیا ته

یادونه: که چیرې ګران لوستونکي و غواړي چې د دې شاعر نورې لیکنې او سرودونو هم ولولي، نو کولای سی چې، پر انځور باندې د «کلیک» په اجرا
کولو سره د لیکونکي مقالې د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړي!